بسم الله الرحمن الرحیم

د خلافت دولت نړېدو عوامل

**(ژباړه)**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:

**«حَق عَلی الله اَن لا یَرتفعَ شیء مِنَ الدنیا اِلا وضعه»**

***ژباړه:*** پر الله سبحانه وتعالی حق ده، چې کوم څه په دنیا کې لوړېدو ته نه پرېږدي او هغه ټیټوي. (الهی سنت دا دی چې که د یو شي د باعظمته او با هیبته کېدو لپاره اسباب برابر کړي، په پایله کې به یې د ماتې او ټیټېدو اسباب هم پیدا کړي.)

رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې دولت تاسیس کړ چې اسلام او د دغه دین پیراوان د هغه تر واکمنۍ لاندې عزت‌مند وو. دې قافلې تر ۱۳۰۰ هـ.ق کاله دوام وکړ چې په هغه وخت کې سیندونه مست بهېدل. بیا هغه و چې د ناسمو دولتونو له برخلیک سره مخ شو، په پایله کې سقوط شو او د ژوند له صحنې لېرې شو. د یادولو وړ ده چې اسلامي دولت پخپل وخت کې له ډېرو دهشتونو او نظامي ماتو سره مخ شو؛ خو بیا هم په دغه اوږد تاریخ کې پر ټولو ستونزو سر ببره پر ځای پاتې شو، تر دې چې نوی وخت راغی او پایله یې د یاد دولت د نړېدو لامل شوه.

د خلافت دولت د سقوط عوامل یوازې بهرني او نظامي نه وو، بلکې حقیقي عوامل یې کورني وو، چې د دولت جسد یې په غاښ وچیچ او له دننه څخه یې د ورانولو هڅې پیل شوې، تر دې چې د ژغورلو لاره یې پاتې نه شوه. تر هغه وروسته بهرني عوامل هم پیدا شول چې د مسلمانانو د سیاسي شتون د پایته رسېدو لامل شي. همدارنګه مسلمانان پر عثماني خلافت له منګولو لګولو څخه وګرځوي او بدیل ورته وړاندې کړي. که پر کورنیو کمزورو عوامل بحث وکړو، له ډېرو سره به مخ شو. له همدې امله دلته د خلافت دولت د سقوط پر مهمو عواملو خبرې کوو، چې زموږ هدف له دې

ناروغۍ څخه خلاصون او د درملنې لپاره یې نسخه ده، څو د راشده ثاني خلافت د بیا راتګ لپاره ځینو ټکو ته پام وکړو او له تېرو پایلو سره مخ نه شو. ان شاء الله!

**لومړی لامل:** د اسلامي دولت د سقوط لومړی لامل د ارثي حکومت مبدا ته د خلیفه په ټاکنه کې د مبدا بدلون و. دغه پړاو د معاویه بن ابي سفیان واک ته په رسېدو سره په دوکې او چل سره پیل شو او کله چې نوموړي خپل زوی د خلکو له مشورې پرته ولیعهد وټاکه، حالت ډېر ناوړه شو چې وروسته علي بن ابي طالب رضي الله عنهم د زوی سید حسین د وژل کېدو لامل شو. وژل شوی تن د جنت ځښتن سید الشباب دی چې همدا لامل پر مدینه منوره د برید او د یادې سیمې د خلکو وینې تویدنې او حلال بللو سبب شو. دا واقعه ډېره مشهوره ده. تر هغه وروسته مکه کلابنده شوه او په ننني اصطلاح پر هغې توغندویي برید وشو.

**دویم لامل:** له خلافت څخه د والیانو د خپلواکۍ غوښتنه او تر خپلې واکمنۍ لاندې د ولایت بېلول او دا کار هغه وخت ترسره شو چې د خلافت مرکز بغداد کمزوری شو او نور یې دا وس نه درلود چې په لودیځ او ختیځ کې خپله واکمني اداره کړي. اندلس لومړنۍ سیمه وه چې د خلافت له واکمنۍ څخه یې خپلواکي واخیسته او خپل ځان یې ازاد کړ. تر دې سیمې وروسته نور ولایتونه هم یو پر بل پسې خپلواکۍ واخیستې چې په پایله کې یې خلافت دولت ډېر وپاشل شو او دښمن ته د یادو سیمو نیول ډېر اسانه شول.

**دریېیم لامل:** د واقعیتونو پر وړاندې د علماوو چوپتیا هم یادولی شو. د سر په سترګو یې د حکامو، دولت کمزوري او د مسلمانانو پاشل کېدل چې په یو او بل لوري به تلل، لیدل؛ خو د اسلامي خاورو د یووالي لپاره یې هڅې ونه کړې، بلکې ډېری یې د حکامو پر وړاندې همداسې پاتې کېدل او د هغه څه اړوند فتواوې یې ورکولې چې واکمنان پرې خوشحالېدل. دا څه په مسلمانانو کې د فتنې اچوونې لامل شول، سیاسي فعالیتونه یې پرېښودل او د هغه په اړه یې پوهاوي ته ارزښت نه ورکاوه.

**څلورم لامل:** همدارنګه پر دنیا د واکمنو منګولې لګول او ترل کېدل، پر لهو او لعب د هغوی اخته کېدل، پر خوشحاله ژوند تېرېدو د هغوی تړون، د جهاد پرښودل او نړۍ ته د اسلام د لېږد پرېښودل هم یادولی شو. دا څه د دې سبب شول چې قومندانان په سیاسي فعالیتونو کې لاسووهنه وکړي،

چې وروسته د خلفاوو او واليانو د وژل کېدو لامل هم شول. ځينو سيمو ته يې سقوط ورکړ او پر دنيوي اسبابو د قومندانانو بوختيا د دې لامل شوه چې د اسلامي دولت د پېژندنې په تړاو ناسم ديد پيدا شي.

**پنځم لامل:** دا لامل له لومړي سره اړوند دی. کله چې قدرت يوې ټاکلې کورنۍ ته پاتې شو او له پلار څخه زوی او له ورور څخه د کاکا زوی ته ولېږدول شو، هغه سياسي حل لارې شتون نه درلود، چې له حکامو سره به حساب پرې کېده، يا به هغوی محاسبه کېدل. دا بحران په داسې بڼه و چې مسلمانانو پر نظامي ځواکونو په منګولې لګولو سره د دولت پر وړاندې راپورته شول او حکام د دغه حرکت په چوپ کولو بوخت شول. ځينې وخت به بريالي کېدل او ځينې وخت به مغلوب وو. په داخل کې د دولت د ځواکونو هڅې وپاشل شوې او په سرحدونو کې د دښمنانو پر وړاندې يې د مبارزې وس نه درلود.

**شپږم لامل:** وچ فکر هم يادولی شو چې پر مسلمانو علماوو د يوناني فلسفې او فارسي کتابونو په ژباړلو سره واکمن شو. وروسته علما پر داسې مسايلو په بحث کولو بوخت شول چې هېڅ ګټه يې نه درلوده. په پايله کې د علماو مخالفين په ناپوهۍ، د علم په لږوالي او احيانا کفر او له اسلام څخه په وتلو ته نسبت ورکول کېده. دا کار پخپل وار د ګوانښوونکي وچ فکر لامل شو او هغه دا چې علماوو په اتفاق سره د اجتهاد دروازه وتړله او د هغو علماوو پر اجتهادونو يې بسنه وکړه چې په غوره پېړۍ کې اوسېدل. د هغو له پايلو څخه د امت خطرناک مخالفت ته اشاره کولی شو چې په اسلامي او غربي نړۍ کې له ټوليز پرمختګ سره پر يوځای کېدو ونه توانېږي او امت نه پوهېده چې د دغو ټولو ناخوالو پر وړاندې څه ډول مقاومت او درېدنه وکړي.

**اووم لامل:** د واکمنو له خوا د يو عالم له اجتهادونو څخه د رعيت تلقيد ته اړ کول، لکه: د ايوبيان په واسطه د امام شافعي له اجتهادونو څخه تقليد ته د خلکو اړ کول او احناف مذهب ته د عثمانيانو له خوا د هغوی اړ کېدل چې دا بهير په ټوليز ډول د وچ فقهيي حرکت لامل شو.

**اتم لامل:** همدارنګه اسلامي خارو ته د غربي ښکېلاکګرو د سفارتونو راتګ هم يادولی شو. د دغو سفارتونو اصلي کار جاسوسي او په مسلمانانو کې د کمزورو ټکو رامنځته کېدل وو. تر هغه وروسته

په اسلامي خاورو کې په بېلابېلو نومونو سازمانونه، بنسټونه او ټولنې رامنځته شوې او د مسلمانانو په عام ژوند کې يې لاسووهنه وکړه. د اسلامي دين په تړاو په مسلمانانو د شک او ترديد رامنځته کېدل د هغوی اصلي دندې وې او دې موخې ته د رسېدو لپاره يې ځينې مسلمانان پخپلو ادارو کې په دندو ګمارل او په تدريجي ډول يې هغوی ته خپل افکار رسول. (جاسوسی او د جاسوسۍ پنځم ستون)

**نهم لامل:** د علم او زده کړو په هدف غرب پوهنتونو ته د هغو مسلمانانو د زامنو استول چې مبدايي نه وو او له فکري، فقهيي او عقيدتي پلوه يې چمتوالی نه درلود. هغوی د همدې کمزورۍ په دليل د غرب له افکارو څخه اغېزمن شول او ذوب شول. د غرب ټول ناوړه ارزښتونه يې د ځينو حکامو په مرسته، لکه د مصر د والي محمد علي او د عثماني سلطان د متنفذينو په مرسته يې په تدريجي ډول اسلامي خاورو ته راوړل.

**لسم لامل:** په اسلامي خاورو کې د کفارو سفارت خونې او بنسټونه پر دې وتوانېدل چې په برياليتوب سره د مسلمانو بچيانو په ذهنونو کې د قومپالنې مفکورې ځای پر ځای کړي او دا څه د دې لامل شول چې په امت کې د امت کېدو او وروروليۍ مفهوم له منځه ولاړ شي او هر يو د قومي اړيکو ټينګېدو او له دغو فکرونو څخه د دفاع په لټه کې شول. پايله يې دا شوه چې دوی سره وپاشل شي او يو قوم بل قوم د لفظي او ژبنيو اختلافونو په دليل يو بل ته سپکاوی وکړي او سپک يې وګڼي.

د اسلامي امت دغه تيت پرک حالت د دې لامل شو چې کفار ګټه وکړي او د يوې عقيدې مسلمانان پخپلو کې سره وجنګېږي. په دې فکر چې د خپلو وروڼو په مقابل کې د جګړې له امله چې هر څه له کفارو څخه وغواړي، هغه تر لاسه کړي؛ خو څومره له واقعيته لېرې ګمان! ايا هغه کسان چې له الله سبحانه وتعالی سره پر خپلو کړو ژمنو عمل ونه کړي او درواغ ووايي، نو خلکو ته پخپل احمق نظر دوراغ نه شي ويلی؟!

د خلافت د نړېدو کورني عوامل تر هغه څه ډېر دي چې موږ يې په دې مقاله کې يادونه وکړه. هغه يوازنی لامل چې اسلامي دولت ۱۳۰۰ کاله دوام وکړ، د اسلامي عقيدې قوت و چې په مسلمانو

بچیانو کې یې ریښه پیدا کړې وه. د دې عقیدې تخم اوس هم د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو له خوا په دومره ناوړه کړنو او دسیسو سره د الله سبحانه وتعالی په مرسته پر ځای پاتې دی او پاتې به شي. د اسلام دښمنان شپه او ورځ هڅه کوي چې اسلام تحریف کړي او مسلمانانو ته دا وښیي چې هغوی یوازې له هغو کالیو پرته چې نه وزن لري او نه ارزښت بل څه نه دي. که د هغوی له ژوند څخه لېرې شي، هېڅوک به یې یاد نه کړي او پر نشت به یې هېڅوک غمجن نه شي.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ﴾** [انفال: 36]

***ژباړه:*** *کفار خپل لګښتونه کوي چې خلک د الله سبحانه وتعالی له لارې څخه وګرځوي. هغوی خپل مالونه مصرفوي، خو وروسته به پښېمانه شي او ماتې به وخوري. له شک پرته چې ټول کفار به دوزخ ته ځي او هلته به اچول کېږي.*

موږ تر اوسه د ثاني خلافت د تاسیس لپاره د مسلمانو د عقیدې په قوت او نصرت باور لرو چې ډېر ژر به د مسلمانانو او غیر مسلمانو ژوند وژغورل شي او هغه کسان چې د چټلې پانګوالۍ تر چتر لاندې دي، هغوی به هم له ځان سره ولېږدوي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِى الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِى ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِى لَا يُشْرِكُونَ بِى شَيْـًٔا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَٰسِقُونَ﴾** [نور: 55]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی له تاسو څخه هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی او غوره کارونه یې ترسره کړي دي، ژمنه ورکړې چې هغوی به په ځمکه کې د پخوانیو ځای ناستې کړي، څو هغوی*

*ته د ظالمانو له ظلم څخه تر خلاصون وروسته عدل ور په برخه کړي. په همغه بڼه چې پخوانيو ته يې خلافت ورکړی و. هغه دين چې د هغوی لپاره يې خوښ کړی، پر ځای به پاتې شي او رينښې به يې وغځېږي. د هغوی ډار به په امن او امنيت بدلوي، په داسې بڼه چې يوازې به د الله سبحانه وتعالی عبادت کوي او له هغه سبحانه وتعالی سره به څوک نه شريکوي. هغه کسان چې تر هغه وروسته کافران شي، هغوی فاسقان دي.*

و آخر دعوانا الحمد لله رب العالمين، پروردګاره! د اسلامي امت کار ته وده ورکړې...!

**أقيموا الخلافة#**

**#Return The Khilafah**

**#YenidenHilafat**

**#خلافت – کو – قائم – کرو**

**خلافت تاسيس کړئ**

**ليکوال: ازاد محمد ـ ولايه عراق**

**ژباړن: بهير «وياړ»**